دکمپیوټر ویرس یو ورانکاری پروګرام دی ,کوربه ته اړتیا لري چې خپل ځان د کمپیوټر

کې کاپي کړي .چې دا ویروس بیاد پروګرام فایل سره ځان یو ځای او یا ترې جلا کوي او بیا
کمپیوټر ته زیان رسوي .ټول ویروسونه د کمپیوټر د پروګرام جوړونکو له خوا چې د کمپیوټر په
پروګرام جوړونه پوهیږي جوړیږي
ولې دې ورانکاری پروګرام ته ویروس وایي؟

داسې ویل کیږي چې دا ورانکاری پروګرام په ۱۹۴۹ م کال جوړ شوی او په ۱۹۶۰ م کال په
شاوخوا کې لومړنی ویرس جوړ او ازمایل شوي و.

په۱۹۸٤ م کال کې د یو پوهنتون پروفیسر دې ته د ویروس نوم کیښود ځکه چې دا بیالوژیکې
ویروس ته ورته دې، کمپیوټري ویروس کوچنی دی، دخپل ځان کاپې ګانې جوړوي او د کوربه نه
پرته اوسیدلی نه شي.

کله چې کمپیوټر ډیر وپیژندل شو نو کمپیوټرې ویروس هم د۱۹۸٦ نه تر ۱۹۸۷ په شاوخوا کې را
څرګند شو .په لومړیو کې دا د یوې ټوکې او تجربې په ډول په کاریده خو اوس یې مقصدورانکاري
او پیسې ګټل دي.

څه شی دی(worm) کمپیوټري چینجي :

کله چې انټرنټ )نړیوال جال (ښه وپیژندل شو بریښنالیک ته اړتیا پیدا شوه نو ورانکارو د ویروس
او په خاص ډول د کمپیوټرې چینجیو د خپرولو له پاره یوه ښه لار وموندله.

کمپیوټرې چینجی ویروس ته ورته دي ، ځان کاپي کوي خو دا کار په کوربه کې له بدلون پرته تر
څخه پرته کوم عمل وکړي او یا (Replicate) سره کوی .دا د ویروس په شان ښایي د تکرارول
یې ونه کړي.

(Trojan horse) تروجن آس څه شی دی؟

پروګرام نوم د هغه قوی لرګین آس نه چې یونانی عسکر یې پټول او د تروی Trojan horse د
(Troy) په لرغونې ښار به یې حمله کوله اخستل شوي.
دهمدې چل په شان د تروجن آس پروګرام هم پټې لاربښوونې ساتی .دا پټې لاربښوونې کیدای شي
ټوکې او یا ورانکاري وي، خو ورانکاري تروجن آس پروګرام د خلکو د معلوماتو د ورانولو له
پاره کار ول کیږي او په دې هم پوه دي چې خلک هغه پروګرامونه چې په زړه پورې نومونه لري
چلوي.

ایا دا پروګرامونه ټول ورانکاري دي؟

دا پروګرامونه د کمپیوټر ماغزه او یا زیرمې ورانوي، دکمپیوټر کار بټي کوي، د کمپیوټر چلوونکی سیستم او یا د کمپیوټر نور پروګرامونو خرابوي .دا ډول پروګرامونه ددې له پاره جوړیږي چې د ویروس ضد پروګرامونه ارزښت او بیه لوړه بوځي .ځکه که یو کمپیوټر وران شي نو د هغه بیرته جوړول د خلکو له پاره ډیر وخت نیسي.

ولې او څوک دا پروګرامونه جوړوي؟

دځینو ویروس جوړونکو مقصد تجربه،ټوکي، اود ډیرو ورانکاري وي .اکثره ددې ویروس جوړونکو څخه تکړه او پوه نارینه وي چې عمر یې له ۱۵ نه تر ۲۳ کلونو پوري وي .او بعضې نور یې د ویروس جوړونکو یو ګروپ وي چې د بیلا بیلو مقصدونو له پاره دا کار کوي.

څنګه دوې ویروسونه خپروي؟

دوی د بیلا بیلو لارو پواسطه د یو کمپیوټر نه بل کمپیوټر ته ویرسونه او تروجنونه خپروي چې دا ټول دکمپیوټرد کاروونکو د بې پروایي له امله کیږي .ځیني خلک هیڅ د داسې ستونزو سره نه مخامخ کیږي خو ځیني د احتیاط نه کولو له کبله ددې ستونزو سره مخامخ کیږي لکه، د فایلونورانښکته کول، د ویروس لرونکو سي ډي ګانو کارول او داسې نور .په )نیټ ورک (کې ویروس په چټکې سره له یو کمپیوټر نه بل کمپیوټر ته خپریدی شي په خاص ډول د بریښنالیک د مل په توګه.

څنګه پوهیږو چې زمونږ په کمپیوټر کې ویروس شته؟

ځني وختونه ویروس په کمپیوټر کې ناشنا کارونه کوي، ځیني ویروسونه په کمپیوټر کې هیڅ کار هم نه کوي خو خپل شتوالي ښیي، ددې له پاره تاسو د ویروس ضد پروګرامونه کارولي شئ چې دي خو دا پروګرامونه باید وخت په وخت د McAfee او Norton پیژندل شوي پروګرامونه یې انټرنټ نه تازه شي.

څنګه تاسو خپل معلومات ساتلي شي؟

،که نه غواړئ چې خپل معلومات د لاسه ورکړئ نو باید د خپلو معلوماتو نه بله کاپي هم جوړه کړئ

ځکه چې که کوم ویروس ستاسو ارزښتناکه معلومات له منځه یوسي دابه تاسو ته ډیره ګرانه شی چې خپلی لیکنی په لاس راوړی.

| | | |
|---|---|---|
| روح الله | نوم | |
| ګلالی | پلار نوم | |
| M27002217 | D cod | |